RECCA VII
The Silk Road through Afghanistan

# د ریکا کنفرانس

## افغانستان لپاره د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو کنفرانس

**۲۰۰۵ م – ۲۰۱۸ م**

**څېړنیزه ټوټه**

لیکوال: محمد جلال یعقوبي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب پېژندنه


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | د ریکا کنفرانس |
| لیکوال | :: | جلال یعقوبي |
| کمپوز کوونکی | :: | لیکوال |
| اړیکې شمېره | :: | 0786 386 356 |
| برېښنالیک | :: | asiangr2015@gmail.com |
| د کتاب ډیزاین | :: | زیار خپرندویه ټولنه |
| د چاپ کال | :: | ۱۳۹۸ لمریز کال |
| د چاپ بڼه | :: | اونلاین |
| چاپ چارې | :: | کتابتون اونلاین ویبپاڼه |


د کتاب ټول حقوق له لیکوال سره خوندي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ!

## د افغانستان اقتصادي پرمختګ ارمانجن او محبوب ولسمشر محمد اشرف غني ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جلال در پېژنم!

تنکی ځوان محمد جلال یعقوبي د الحاج داکتر محمد نصیر یعقوبي زوی او د ملا محمد یعقوب لمسی دی چې له نن څخه ۲۳ کاله دمخه د لوی افغانستان ارمانجن شاعر اروانباد ملنگ جان په ټاټوبي؛ د ننگرهار بهسودو ولسوالۍ کې د دې نړۍ مېلمه شو.

یعقوبي د بهسودو ولسوالۍ په نهرماسیو کلي کې زېږېدلی؛ هغه کلی چې د سیند د مستو څپو زمزمې پکې سرې د خواږه خوب تر ټاله وړي، د یعقوبي د پیدایښت په خوشحالۍ کې ځکه چا ډزې ونکړې چې هغه وخت د واک پر سر د جگړو لمبې په ټول هېواد کې بلې وې او هسې هم د ورځې په زرگونه ډزې کېدې، د مور په غېږه کې د آللو للو او د ویده کېدا شپې ورځې یې چې تېرې شوې؛ نو سمدستي یې د کلي له ملا امام سره دیني درسونه پیل کړل، چې ښوونځي ته د تللو وخت یې را ورسېد نو د قلعه جانان خان په عالي لېسه کې شامل شو، له قلم، کتاب او کتابچې سره یې مینه له همدې ځایه پیل شوه او د څو ټولگیو له لوستو وروسته وخت داسې راغی چې یعقوبي غوښتل پاتې زده کړې د ننگرهار عالي لېسه کې ترسره کړي، همداسې وشول او له قلعه جانان خان عالي لېسې څخه ننگرهار عالي لېسې ته ولاړ.

کله چې جلال له اووم ټولگي څخه اتم ته بریالی شو، نو د افغان ترک ښوونځي په ازموینه کې یې گډون وکړ، هلته هم د ۵۰۰۰ کسانو له جملې په ۷۵ بریالیو کسانو کې راغی او د جلال آباد - افغان ترک د لومړنیو زده کوونکو له جملې څخه وو، اتم ټولگی یې هلته ولوست خو د ځینو ستونزو له امله بېرته ننگرهار عالي لېسې ته یې مخه کړه. د ننگرهار عالي لېسې په انگړ کې یې د کمپیوټر او انټرنېټ زده کړې پیل کړې، موده وروسته له کمپیوټر او انټرنېټ دواړو خونو څخه په لومړي درجه د فراغت یو کلن اسنادونه ترلاسه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعداد يې د دې تقاضا کوله چې د انټرنېټ د خونې مرستيال شي، نو ځکه خو همداسې وشول او هلته د ځينو ښو فعاليتونو له کبله يې د GCEP Afghanistan ادارې لخوا د فعال ځوان انعام واخيست او له دې سر سم د Rotary نړېوالې ادارې لخوا هم په اېوارډ ونازول شو. د ننگرهار په اطلاعاتو او فرهنگ رياست کې د لينکن سنټر ښوونيز مرکز له لوري ورته د "اوونۍ اتل" لقب ورکړل شو، لا د ښوونځي زده کوونکی و چې (د انټرنېټ نړۍ) په نامه يې يو کتاب هم چاپ شو.

د ژورنالېزم اړوند خواره واره زده کړې يې هم کړي چې له جملې يې په ميډيوتيک افغانستان او "نی" يا د ژورنالېستانو د ملاتړ په مرکز کې لنډ مهالې زده کړې د يادولو دي، پدغه برخه کې له لنډمهالو زده کړو وروسته يې له رسنيو سره مينه پيدا شوه او پدغه برخه کې يې سفر د ننگرهار له اصلاح غږ راډيو څخه پيل کړ او له څه مودې وروسته په همېشه بهار راډيو کې د ټولنيزو خپرونو مسول شو، په نن راډيو کې هم د ټولنيزو او ورزشي خپرونو په برخه کې يې فعاليتونه ترسره کړل.

کله چې په ننگرهار کې د آسيا تلويزيون جوړ شو نو يعقوبي يې له لومړنيو کار کوونکو څخه و، په ياده اداره کې يې خپله وړتيا څرگنده کړه او د سياسي خپرونو د مسؤل په توگه وټاکل شو، يعقوبي په عين وخت پدغه اداره کې د آسيا پروډکشن مسؤل مدير هم و، له آسيا تلويزيون وروسته يې له شرق راډيو تلويزيون سره د نيوز ايډيټر په حيث دنده پيل کړه، لنډه موده له شرق تلويزيون سره پاتې شو، همدا مهال ورته د رسا تلويزيون د ادارې له لورې د خبرونو د مديريت وړانديز کيږي او هلته د سياسي خپرونو او خبري څانگې مسؤل مدير په توگه ټاکل کيږي، دا نو ۱۳۹۵هجري لمريز کال و چې کال وروسته يې د ننگرهار له استقلال عالي ليسې د بکلوريا سند ترلاسه کړ او اوس مهال يې د سياسي علومو په برخه کې زده کړې روانې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعقوبي له لسو ډېرو  انټرنېټي وېبپاڼو سره قلمي همکار پاتې شوی او لا هم وخت نا وخت يې له مختلفو وېبپاڼو څخه ځينې سياسي او علمي ليکنې خپرېږي.

دی له مدني فعاليتونو هم لرې نه دی پاتې، د ځوانانو اصلاحي او پرمختيايي ټولنې مرستيال هم پاتې شوی او د يادې ټولنې له لورې يې د AYC (Afghan Youth Connect) او Stad ادارو په همغږۍ ځوانانو ته ګڼ علمي او ښوونيز پروګرامونه هم په لاره اچولي چې له هغه جملې يې د ژورنالېزم او غير قانوني مهاجرتونو په برخو کې ورکشاپونه او سيمينارونه د يادولو دي.

جلال په ختيځ کې د نوښت خبري وېبپاڼې خبريال هم پاتې شوی او يوه لنډه موده په ننګرهار کې د خوست غرغښت ټلوېزيون سيمه ايز خبريال هم و او د رسمي ماموريتونو په برخه کې يې د لنډې مودې لپاره د ننګرهار ولايت مقام د ټولنيزو چارو د ياورۍ ۴ بست ماموريت هم ترسره کړی.

يعقوبي د ننګرهار په رسا تلويزيون کې د خبر څانګې تر يو کلن بريالي مديريت وروسته په کابل کې د زن تلويزيون د پښتو څانګې مسؤل مدير په توګه وټاکل شو او د زن تلويزيون له لومړنيو بنسټ ايښودونکو همکارانو د جملې څخه و. يعقوبي ننګرهار کې د غازي امان الله خان روغتيايي علومو انسټېټيوټ – د اداري او منجمنټ استاد هم پاتې شوی او اوس مهال روښان د لوړو زده کړو مؤسسې د نشراتو د آمريت ترڅنګ په افغانستان کې د څار څېړنيز او رسنيز مرکز د مشر په توګه مسؤليت پر غاړه لري.

دا يې درېيم اثر دی چې په اونلاين بڼه چاپېږي، تر دې وړاندې يې د انټرنيټ نړۍ په نوم لومړنی اثر د توحيد او سنت خپرندويې ټولنې او د لوړ فکر وکړئ په نوم يې ژباړه د زيار خپرندويې ټولنې لخوا چاپ شوي.

"فردوس بشرمل"

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

موضوع — مخ

د کتاب پېژندنه ........ ب
ډالۍ! ........ ج
جلال در پېژنم! ........ أ
د پیل خبرې ........ 1
پېژندنه: ........ 3
د ريکا کنفرانس ارزښت: ........ 6
سیاسي ارزښت: ........ 6
اقتصادي ارزښت: ........ 7
کلتوري ارزښت: ........ 9
د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو کنفرانس یا ریکا ناستې ........ 11
د ریکا لومړنۍ ناسته - کابل ۲۰۰۵ م ........ 11
د ریکا اوومه ناسته/ عشق آباد - ۲۰۱۷م ........ 15

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پیل خبرې

د پوهنتون د دویم سمستر زده کړیال وم، د نړیوالو سازمانونو په نوم مو په یو مضمون کې د اوپیک یا د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو سازمان درس درلود. د آزاد بحث پر مهال ما غبرګ کړ چې استاد محترم اوپیک ته ورته د ریکا په نوم د افغانستان لپاره د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو یو کنفرانس هم شته چې هر کال پکې د سیمې هېوادونه راټولېږي، د افغانستان او سیمې پر اقتصادي پرمختګ او پیاوړتیا بحث او خبرې کوي.

استاد ویلې همداسې ده، خو په کتاب کې د یاد کنفرانس په تړاو څه نشته؛ ستا دنده دا شوه چې راتلونکي ساعت لپاره به د یاد کنفرانس په تړاو تر لنډې څېړنې وروسته په پوهنتون کې یو سیمینار وړاندې کوې.

همداسې مې وکړ، په شا او خوا ۷ ورځو کې مې د یاد کنفرانس په تړاو ډېر څه راټول کړل، که څه هم ډېره ستونزمنه په دې وه چې د دغې کنفرانس په تړاو هېڅ کتاب شتون نه درلود او نه هم په انټرنیټي ویبپاڼو کې د یاد کنفرانس په تړاو کافي معلومات شتون درلود پرته د یو شمېر رسنیو انځوریزو خپرونو او راپورونو څخه چې ما هم یو اندازه پدغه لیکنه او څېړنه کې له یادو خپرونو ګټه اخیستې.

سیمینار مې په کامیابۍ او ښه شکل وړاندې کړ، دا چې یاد موضوع د افغانستان اقتصادي پرمختګ او پر ځان بسیاینې په لار کې ډېر ارزښتناک رول لري، ما هم وغوښتل چې لا ډېر کار پرې وکړم او د یوې کوچنې څېړنیز اثر په توګه یې په اونلاین بڼه چاپ ته وسپارم.

پدغه برخه کې له خپل استاد او لارښود ښاغلي استاد بلال رحیمي نړۍ مننه چې د دغې اثر په برابرولو کې یې ډېر شمېر کړې وړې یې راسمې کړې او همدا راز د راتلونکي لپاره یې یو شمېر لارښوونې راته وکړې. که د لیکلو پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینو مسایلو ته مې پام نه وي شوی او په برخه کې راڅخه کوم څه پاتې وي له ټولو لوستونکو بخښنه غواړم هیله مند یم چې په راتلونکي کې کوم پیاوړی لیکوال پیدا شي او پدې برخه کې مکمله څیړنه وکړي.

مینه او درنښت

"یعقوبي"

خپله جونګړه

May/07/2019

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پېژندنه:

### د افغانستان لپاره د سیمې اقتصادي همکاریو کنفرانس

Regional Economic Cooperation Conference for Afghanistan (RECCA)

د افغانستان په په اقتصادي برخه کې د سیمې هېوادونو د اقتصادي همکاریو کنفرانس یا د ریکا کنفرانس د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو هغه کنفرانس دی چې د افغانستان اقتصادي پیاوړتیا او په سیمه کې د یو آزاد اقتصاد د رامنځته کولو لپاره د افغانانو په رهبرۍ جوړه شوې.

پدغه کنفرانس کې د شا او خوا ۴۰ هېوادونو او ۳۳ نړېوالو سازمانونو استازي راټولېږي او پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې کوي، یاد کنفرانس د لومړي ځل لپاره د ۲۰۰۵ م کال د ډسامبر په ۴ او ۵ مه نېټه په کابل کې ترسره شوه.

د افغانستان لپاره د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو کنفرانس یا ریکا د افغانستان په ګډون بېلابېلو هېوادونو کې ناستې کړي او د افغانستان لپاره خورا ارزښتناکې لاسته راوړنې لري. د آسیا زړه یا استانبول پروسه هم د همدغې کنفرانس د ناستو او غونډو له لاسته راوړنو تر ټولو مهمه لاسته راوړنه ده.

د مخکیني ولسمشر حامد کرزي د خبرو پر بنسټ په افغانستان کې سیاسي، امنیتي او اقتصادي ثبات د سیمې او په ځانګړې ډول د ګاونډیو هېوادونو له همکارۍ او مرستې پرته ناشونې ده، نو دغه کنفرانس د افغانستان د سیاسي او اقتصادي ثبات د حل لپاره تر ټولو پرځای اقدام دی. د ریکا کنفرانس د سیمه ایزو اقتصادي پروژو د پلې کولو لپاره تر ټولو بهترینه لار ده، د کاس زر، چابهار، تاپي، لاجوردو لار، چابهار او یو شمېر نور اقتصادي پروژې د افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادي ثبات په لار کې د همدې کنفرانس د مرستو له غوښنې برخې څخه دي.

د سیمې هېوادونو لپاره افغانستان خورا ارزښتناکه جغرافیه ده، افغانستان جیو اکومیک جغرافیوي موقعیت لري او کولی شي د سیمې هېوادونه له یو بل سره ونښلوي، افغانستان د سویلي آسیا او مرکزي آسیا ترمنځ لکه د پُل په څېر موقعیت لري، د بېلګې په ډول د تاپي پروژې په عملي کېدو سره د سیمې څلور هېوادونه سره تړل کېږي، په همدې ډول که په ورته پروژو کار وشي نو سویلي آسیا به په ډېرې آسانۍ سره مرکزي آسیا سره ونښلول شي. پرته له شکه چې دا ممکن دی، خو دا فرصت د ریکا په څېر ارزښتناکو کنفرانسونو ته اړتیا لري.

لنډه دا چې د افغانستان لپاره د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو کنفرانس یا ریکا له افغانستان ور هاخوا د سیمې د ټولو هېوادونو لپاره یو ښه فرصت دی، څو په سیمه کې یو ښه اقتصادي ځواک رامنځته شي.

د ریکا لومړنۍ ناسته په ۲۰۰۵ م کال کابل کې ترسره شوې او په همدې ترتیب، دویمه ناسته ۲۰۰۶م کال نوي ډهلي، درېیمه ناسته ۲۰۰۹ م کال اسلام آباد، څلورمه ناسته ۲۰۱۰م کال په استانبول، پنځمه ناسته ۲۰۱۲م کال د تاجکستان په دوشنبې او وروستۍ ناسته یې په ۲۰۱۵م کال پلازمېنه کابل کې ترسره شوې.

د یادو ناستو ګډونوال په لاندې لویو برخو کې پر بېلابېلو پروژو بحثونه شوي:

- د سیمه ییزې پانګونې یو شمېر اقتصادي پروژو سره د همکاریو د رامنځته کولو آسانتیا
- د سیمې تر منځ د سوداګرۍ لوړې کچې ته رسول، له هغې ډلې د افغانستان له موقعیت ګټه اخیستل
- د اقتصادي سیاست د یو لړ لومړیتوبونو پېژندنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د انرژۍ د یوه سیمه‌ییز بازار رامنځته کول
- د سوداګرۍ او ترانزیت د لارو آسانتیا
- د ګمرکونو او مرزي لارو همغږۍ
- د دولتي او خصوصي پانګونو لپاره د بازار پراختیا او بازار ته لاسرسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ریکا کنفرانس ارزښت:

**سیاسي ارزښت:**

**د ورېښمو لار د ریکا کنفرانس له ارزښتناکو بحثونو څخه دی او د ریکا په ډېرو ناستو کې پر دغه عظیمې پروژې بحثونه شوي، افغانستان د ورېښمو لار په ایجاد او کامیابۍ کې ترټولو ارزښتناک رول لري. د "یو کمربند او یو واټ" په پلان کې ځمکني، هوایي او سمندري زیربناوې، د اوسپنې پټلۍ او د انرژۍ د لېږد شبکې شاملې دي، د ورېښمو لار د نړۍ 64 هېوادونه او څلورنیم میلیارده وګړي سره نښلوي. دا پروژه نه یواځې اقتصادي ګټې لري بلکې مختلفو تمدونونو ته د نښلېدو زمینه مساعدوي او په سیمه کې فرهنګي او ټولنیزو اړیکو ته هم پراخوالی ورکوي، نو له دې اړخه د ورېښمو لار د ملتونو او په ځانګړې ډول د آسیایي ملتونو په نږدې کولو کې کې اغېزمن ثابیتدای شي او د دغه ډول پروژو د تطبیق لپاره د همغږۍ او فرصتونو رامنځته کولو لپاره د ریکا په څېر کنفرانسونو او ناستو ته اړتیا ده.**

**د ریکا کنفرانس تر ډېره د آسیایي او په تېره بیا د سیمې د هېوادونو ترمنځ جګړه ایز حالت په اقتصادي همکاریو بدل کړی، د ریکا په ناستو کې د هند او پاکستان غوندې دښمن هېوادونه هم له افغانستان سره د ګډې همکارۍ لپاره تېر وهي او د اقتصادي پروژو په پلې کولو کې یې سیالۍ روانې دي. د ټاپي په پروژه کې د هند او پاکستان نقش خورا حیاتي ارزښت لري او همدا د ریکا کنفرانس و، چې د دښمنۍ اور یې مړ او د دوستۍ په فضاء بدل کړ، چې دا د سیمې د سیاسي ثبات او اقتصادي پرمختګ لپاره تر ټولو ښه اقدام دی.**

**د ریکا شپږمه ناسته چې په پلازمېنه کابل کې ترسره شوه، د هند استازې سجاتا محتا وویل چې: *"ټولو هغو ټرانزیټي تړونونو ته چې افغانستان یکې ګډون لري باید درناوی وشي، هند غواړي چې د سوداګریزو او ټرازیټي خدماتو***

(c) ketabton.com: The Digital Library

*د پراختیا په موخه د افغانستان او پاکستان په سوداګریز او ټرانزیټي تړون کې ګډون وکړي.[1]"* هند په سیاسي او اقتصادي ډګر کې د پاکستان تر ټولو سخت رقیب دی او وخت نا وخت د یادو دواړو هېوادونو ترمنځ کشمکشونو د سیمې سیاسي ثبات لمنځه وړې خو د ریکا کنفرانس د دې زمینه برابره کړه چې هند د سیمې سیاسي او اقتصادي ثبات لپاره له پاکستان سره کار وکړي.

په ټوله کې ریکا د سیمې هېوادونو ته د دې زمینه برابروي چې په یو ټغر سره را ټول شي او د سیمې د اقتصادي همکاریو لپاره سره یو ځای کار وکړي.

افغانستان د دریېمې نړۍ له هېوادونو څخه دی چې، تر ډېره د دریېمې نړۍ هېوادونه د سیاسي ثبات له پلوه ډېرې ستونزې لري، د ریکا کنفرانس نړېوالو ته یو پیغام دی چې افغانستان لا هم دومره سیاسي ثبات او پیاوړې ډیپلوماتیک دستګاه لري چې د سیمې هېوادونه په یوه ټغر راټولوي او نړېوال کنفرانسونه رهبري او مدیریت کوي. په نړېواله سطحه د افغانستان سیاسي حیثیت او پرسټیج په لوړولو کې ورته کنفرانسونه ډېر موثر واقع کېدی شي.

**اقتصادي ارزښت:**

د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پیاوړتیا د ریکا یا سیمه ایزو اقتصادي همکاریو کنفرانس اصلي محور دی، یاد کنفرانس د افغانستان اقتصادي ودې، پرمختګ او پر ځان بسیاینې لپاره خورا مهم کنفرانس دی.

د اقتصاد پوهانو د ارزونې له مخې سویلي او منځنۍ آسیا به په راتلونکو لسو کلونو کې د نړېوال اقتصاد پر مرکز بدله شي، همدا راز په نړېواله کچه بدلونونو په تېره بیا د ایران او لویدیځ ترمنځ د اټومي لانجې پر سر هوکړې، په سیمه کې د اقتصادي همکاریو لپاره مثبتو بدلونونو ته لاره هواره کړې ده، افغان حکومت که له دغو نویو جیو ایکانومیکي شرایطو لازمه ګټه واخلي، نو لرې نه ده چې افغانستان به د لویو اقتصادي پروژو د عملي کېدو شاهد وي.

[1] د طلوع نیوز ۶ بجو دری خبري سرویس – د ریکا شپږمې ناستې راپور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**افغان دولت کولی شي د ریکا په کنفرانس کې د انرژۍ او طبیعي سرچینو، د اوسپنې پټلۍ او سړکونو، د ټرانزیټ او سوداګرۍ د پراختیا، د خصوصي سکتور د پیاوړتیا، سیمه کې اقتصادي خدمتونو، پانګونې، سوداګریزو فرصتونو، مخابراتو، کار، کارګرو، ټرانسپورټ، سوداګري، سیمه ییز ټرانزیټ او مسلکي زده کړو په برخو کې له موجوده فرصتونو ګټه واخلي.**

**افغانستان پراخ او ځپانده سیندونه لري، که افغان دولت دغه سیندونه مدیریت کړي پرته له شکه چې افغانستان به تر راتلونکو شلو کلونو د انرژۍ له مخې پر ځان بسیا شي، افغانستان همدا اوس له ترکمنستان او تاجکستان څخه وارداتي بریښنا لري، که د افغانستان اوبه په ښه شکل مدیریت شي نو افغانستان هم د انرژۍ تولید لپاره ښه امکانات لري، د اټکل له مخې کولی شي تر دیرش زرو میګا واټه بریښنا تولید کړي او نورو هیوادونو ته یې صادره کړي.**

**تر ټولو اړینه موضوع دا ده چې، افغانستان اوبو ته لاسرسی نه لري او له دې امله د نړیوال سوداګرۍ پر وړاندې دا لوی خنډ دی، پدې برخه کې د سیمې د هېوادونو د همکارۍ اړتیا ده، دا ستونزه د چابهار بندر، لاجوردو او ورېښمو لارو په څېر په لویو پروژو نسبي حل کېدای شي.**

**نا امنۍ او بې ثباتي په افغانستان کې د سوداګرۍ د پرمختګ پر وړاندې تر ټولو ستر خنډ ګڼل کېږي، له همدې امله بهرني پانګوال او سوداګر په افغانستان کې پانګونې ته زړه نه ښه کوي، خو د ریکا د ناستې د طرحو په عملي کېدو به افغانستان په لویو پروژو کې نړیوال اقتصادي شریکان پیدا کړي او دا چاره به د سیمې هېوادونه وهڅوي څو په افغانستان کې د ثبات ټینګښت لپاره هڅې وکړي، دغه فرصت به د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د ودې لپاره زمینه برابره کړي، "د پانګونې فضا په غوره کېدو افغانستان ورو، ورو له مصرفي اقتصاد څخه د واقعي اقتصاد پر لور حرکت کوي او په دې ترتیب د کرنې، صنعت، کانونو او خدمتونو سکتورونو غوړېدو په برخه کې د هې،اد لوی اقتصادي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوبونه رښتیا کېږي. د سیمه ییزو پروژو پر غوړېدو سربېره، د سیمې هېوادونو ګټې هم زیاتوالی مومي[2].″

پرته له شکه چې د سیمې اقتصادي سیکه په بل مخ د اوښتو په درشل کې ده، د سیکې دا مخ اقتصادي پرمختګ او پر ځان بسیاینه ده، که د ریکا طرحې پلې شي نو په سیمه کې به ورسره د میلیونونو انسانانو ژوند هم بدله شي.

له تېرو ۴۰ کلونو راهیسې افغانستان د نړېوالو قدرتونو او د سیمې هېوادونو د سیاسي رقابتونو او جګړو په میدان بدل شوی اوس اړتیا ده څو دغه جګړېز رقابتونه په اقتصادي رقابتونو بدلې شي، چې پرته له شکه د ریکا کنفرانس کولی شي دغه بدلون رامنځته کړي.

د ریکا شپږمې ناستې پر مهال هندي څېړنپوه او د مانتیا څېړنیز مرکز بنسټګره داکتره شانتی ماریت له طلوع نیوز سره په یوه مرکه کې وویل چې: *″هند د افغانستان ۵ تر ټولو ستر او ښه مرستندوی هېواد دی، زه نورو هېوادونو ته وایم چې که چیرې تاسې غواړئ په افغانستان کې له هند سره سیالي وکړئ نو د هند په څېر لویې پروژې پلي کړئ.″*

**کلتوري ارزښت:**

ریکا نه یوازې دا چې سیاسي او اقتصادي ارزښت لري، بلکې له کلتوري برخې هم له خورا مهمو ارزښتونو برخمن دی، د ریکا په شپږمه ناسته کې د نورو مسایلو ترڅنګ پر دې هم بحثونه شوي، څو خلیجي هېوادونو ته افغان کارګران واستوي، دا چاره به د فرهنګونو په تبادلې کې رغنده رول لوبوي.

د ریکا په ٦ مه ناسته کې چین ژمنه وکړه چې د ظرفیت لوړونې په برخه کې به ۳ زره افغانانو ته به په بېلابېلو برخو کې روزنه ورکوي، چې له دې سره ۳ زره افغانان د لنډ او اوږمهال لپاره به چین ته سفر کوي او افغانستان ته به د بېرته راتګ پر مهال له ځانه سره نوي فکرونه وارد کړي.

[2] د ملي وحدت حکومت درې کلنو لاسته راوړنو ته لنډه کتنه - سلواغه ۱۳۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ریکا هغه ناستې چې په کور دننه کابل کې ترسره شوي، د هېوادونو او نړېوالو سازمانونو د رسمي استازو سربېره یو شمېر سوداګرو او علمي کدرونو هم پدغو ناستو کې ګډون کړی چې له افغان سوداګرو سره د نظرونو پر تبادلې او کاري فرصتونو خبرې کړې. د ریکا ناستې د دې فرصت برابروي څو د بېلابېلو هېوادونو استازي یو له بل سره نظرونه تبادله کړي، په ټوله کې د ریکا کنفرانس د فرهنګونو تقاطع ده او هغه نقطه ده چې د سیمې بېلابېل کلتورونه پکې په بېلابېلو ډولونو تبادله کېږي.

د ورېښمو لار چې شا او خوا ٦٠ هېوادونه سره نښلوي، دغه پروژه د اقتصادي ګټو سربېره د فرهنګونو په تبادلې کې هم خورا ارزښتناک ګام دی، د یو کمربند یوې لارې په ترڅ کې چین ته د پېژندل شویو فرهنګي او سیاسي شخصیتونو سفرونه هم د ریکا کنفرانس کلتوري اغېزې او ګټې لا زیاتوي، د دې ټولو سربېره ریکا ګڼ نور کلتوري ارزښتونه هم لري چې، را برسېره کول یې اوږدې څېړنې غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو کنفرانس یا ریکا ناستې

**د ریکا لومړنۍ ناسته – کابل ۲۰۰۵ م**

د افغانستان د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو کنفرانس یا ریکا لومړنۍ ناسته په ۲۰۰۵ میلادي کال پلازمېنه کابل کې خپل لومړنۍ ناسته وکړه، د یادې ناستې موخه په سیمه کې د یو باثباته اقتصادي بلاک رامنځته کول و، چې پکې د سیمې د ۷ هېوادونو لوړ پوړیو استازو ګډون کړی و، په یاده ناسته کې د اوبو د ګټو پر ویش، نشه يي توکو پر ضد مبارزې، ټرانسپورټ، د انرژۍ لېږد، ټرانزیټ او د سوداګرۍ د فرصتونو په رامنځته کولو بحثونه ترسره شوې.

د یادې ناستې په څنډه کې د افغانستان د اقتصادي ودې او ثبات په لار کې د مرستو په څرنګوالي هم خبرې وشوې، چې پدې برخه کې د ایکو سازمان، د شانګهای همکاریو سازمان، د سارک سازمان، د منځني آسیا د سیمه ایزو همکاریو پروګرام، د منځني او سویلي آسیا د ټرانسپورټ او سوداګرۍ فورم او داسې نور نړېوالو سازمانونو د مرستو او همکاریو ژمنې وکړې.

د یادې ناستې په پای کې همدا راز ژمنه وشوه چې، د ریکا کنفرانس ناستې به یو د بل پسې د سیمې هېوادونو په پلازمېنو کې جوړېږي، چې په همدې ترتیب یې تر اوسه ۷ ناستې ترسره شوي.

**د ریکا په لومړني ناسته کې پر لاندې اقتصادي پروژو خبرې وشوې:**

**I. د انرژۍ لېږد او پراختیا:**

د امکاناتو په صورت کې د سیمې له یو شمېر هېوادونو سره په نړېوالو معیارونو برابر د برېښنا پېرلو تړونونه لاسلیک شي، چې دا د ټولو هېوادونو په ګټه ده. پدې برخه کې اړتیا ده، څو د سیمې هېوادونه وهڅول شي، تر څو د انرژۍ د لېږد په برخه کې همکاري وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**II. د اوبو د ګټې ویش:**

د سیمې د اوبو مدیریت او ګټې اخیستنې لپاره مناسب فرصتونه برابر دي، پدې برخه کې همکارۍ او همغږۍ کولی شي د برېښنا او انرژۍ په تولید، زراعت او د څښاکو اوبو لپاره په سیمه کې د اوبو له شته سرچینو سالم ګټه پورته شي.

**III. له نشه یي توکو سره مبارزه:**

له نشه یي توکو سره به په ملي او سیمه ایزه سطحه مبارزه کېږي، څو په افغانستان کې د نشه یي توکو د کښت، تولید او سوداګرۍ مخه ونیول شي.

**IV. ټرانسپورټ:**

د سیمې هېوادونه باید له نړېوالو او سیمه ایزو سازمانونو سره یوځای د همکارۍ او لومړیتوبو روښانولو لپاره کار وکړي، لومړیتوبونه پیدا او د ټرانسپورټ د سیمه ایز مارکیټ د جوړولو لپاره دې د ختیځ – لویدیځ او شمال – سویل په دهلیز باندې کار پیل شي.

**V. د سوداګرۍ فرصتونه:**

د سیمې هېوادونه به د یو بل پر وړاندې د سوداګرۍ قوانین د نرمۍ حالت ته راولي، د سوداګریزو توکو په لېږد رالېږد کې آسانتیاوې رامنځته کوي. هېوادونه به زمنه کوي چې پر سوداګریزو توکو مالیې تر ټولو ټیټې کچې ته راټیټې کړي او همدا راز د دواړو خواوو سرحداتو امنیت ته به پاملرنه او پر پوله به د نشه یي توکو د قاچاق مخه نیسي.

**په یاده ناسته کې یو شمېر پرېکړې په لاندې ډول وشوې:**

I. د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو کنفرانس باید پر هغو یو شمېر اقتصادي پروژو فوکس وکړي، چې ګټه یې دوو او یا له دوو زیاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادونو ته رسېږي، همدا راز پر هغو پروژو چې د سیمې پر اقتصاد مثبت اغېز وکړي؛ دغه پروژې باید د انرژۍ، ټرانسپورټ او سوداګرۍ په برخو کې وي.

II. په سیمه کې اقتصادي پروژې په لوړه کچه سیاسي ملاتړ ته اړتیا لري، ټول هېوادونه باید پدغه برخه کې په پوره لېوالتیا میدان ته راښکته شي.

III. هېوادونه دې له یو بل سره د همکاریو په پار له سیمه ایزو سازمانونو او یو بل سره معلومات شریک کړي، څو د تکراري هڅو مخنیوی وشي.

IV. د کابل او هری رود – هلمند سیندونو د اوبو د مهار کولو لپاره دوه اړخیز ګروپونه به جوړ او کار به پیل کړي، همدا راز د پنج – آمو سیند د اوبو مدیریت لپاره هم څو اړخیز ګروپونه جوړ او ژر دې په کار پیل وکړي.

V. د سیمې هېوادونه به تر راتلونکو نهو میاشتو یو ځل بیا د وزیرانو په کچه ناسته وکړي او د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو کنفرانس په لومړي ناسته کې د شویو پرېکړو او ژمنو څارنه او ارزیابي به وکړي.

VI. افغان حکومت باید د ریکا لومړنۍ ناستې د پرېکړو او همدا راز د کارونو ارزونه او څارنه وکړي، همدا راز افغان حکومت باید د ریکا اړوند کارونه د سیمې له هېوادونو او ښکېلو خواوو سره تعقیب کړي.

VII. په راتلونکي ناسته کې به د زراعت او د کرنیزې سوداګرۍ پر پراختیا به جلا بحثونه او خبرې وشي.

VIII. د راتلونکي ناستې لپاره:

- په ملي سطحه د یو فوکل پواینټ ګروپ رامنځته کول، څو د راتلونکي ناستې لپاره د ګډون کوونکو هېوادونو پر څرنګوالي، موثریت او همدا راز په سیمه کې دې پر لومړیتوبونو تمرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي. افغان حکومت باید د کنفرانس اړوند پاڼې پر دغو فوکل پواینټونو وویشي.

- دغه فوکل پواینټ گروپونه به په ډېرې پاملرنې، په ښه شکل د کنفرانس تخنیکي چارې پر مخ وړي!

IX. د سیمې هېوادونه باید وهڅول شي، څو د دوحې راتلونکي دویمې ناستې له شته فرصتونو گټه پورته کړي، همدا راز پدغه ناسته کې دې د سیمې هېوادونو پر سرحداتو د سوداگرۍ او ټرانسپورټ په برخو کې د آسانتیاوو رامنځته کېدا لپاره خپل وړاندیزونه وړاندې کړي.

X. د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې پر لارو چارو دې له سیمه ایزو سازمانونو سره خبرې وشي او د نشه یي توکو د کښت، تولید او قاچاق د مخنیوي میکانیزمونه دې جوړ او تعقیب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ریکا اوومه ناسته/ عشق آباد – ۲۰۱۷م**

د افغانستان لپاره د اقتصادي همکاریو یا ریکا غونډې د تېرو ۱۲ کلونو راهیسې جوړېږي، د ریکا په ناستو کې تر ډېره د انرژۍ په لېږد، د ټرانسپورټي او ټرانزیټي ستونزو او سهولتونو، مخابراتو او د سوداګرو ترمنځ د اړیکو پر پیاوړتیا بحثونه کېږي. د ریکا اوومه ناسته د ۲۰۱۷ م کال د نومبر ۱۴-۱۵ نېټه د ترکمنستان په مرکز عشق آباد کې جوړه شوې وه، چې په یاده غونډه کې د ٦٧ هېوادونو او نړېوالو سازمانونو لوړ پوړیو استازو ګډون کړی و.

د افغانستان لپاره د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو کنفرانس "ریکا "د ناستو له پیل راهیسې ګڼې پروژې لکه ټاپي، کاسا زر، د برېښنا د لېږد ۵۰۰ کېلو ولټه، د پنځو هېوادونو ترمنځ د رېل ګاډي پټلۍ، چابهار، یوه لار او یو کمربند او داسې نورې پروژې چې افغانستان یې برخه ده یا خو پیل شوي او یا یې پر عملي کېدو کار روان دی، خو په هر حال په یادو ټولو پروژو کې د ریکا د غړو هېوادونو رول او ملاتړ مهم دی او یو پر بل پسې پلې کېدونکې دي.

پدغه ناسته کې د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي پروژو لکه د حلقوي سړکونو، انرژۍ، سوداګرۍ او همدا راز د هوایي دهلیزونو له لارې د سوداګرۍ د لارو چارو او فرصتونو رامنځته کولو بحثونه او خبرې وشوې. د ریکا اوومې ناستې ګډونوالو پر سیمه ایزې همکارۍ ټینګار وکړ او همدا راز د لاندې یو شمېر پروژو په عملي کولو ټینګار او د دغو پروژو اړوند لاندې پرېکړې وشوې:

**برېښنا او انرژي:**

I. د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند ګازو نل لیکه یا ټاپي:

a. د پایپلاین لېږد، د کوربه هېواد قوانین او د تړون مادې دې ترتیب او لاسلیک شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

b. د ټاپي پایپلاین ساختماني چارې دې پیل شي
c. د پایپلاین ساختماني چارو د بشپړولو لپاره دې د TPCL ملاتړ وشي او همدا راز پدغه برخه کې دې په نړېواله کچه مرستې جلب او پانګې اچونې لپاره دې زمینه برابره شي

نوټ: د ۱۳۹٦ کال د کب په ۴ مه نېټه په هرات کې د ټاپي ګازو نلليکې عملي چارې پیل شوې، دا پروژه چې ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند سره تړي، په پرانیستل کېدو یې افغانستان خپل جیوپولیټیک ارزښت څرګند او ثابت کړ، همدا راز له دې درکه یې ترلاسه کېدونکي عواید د افغانستان د اقتصاد لپاره ښه لاسته راوړنه ثابتېږي.

II. له منځنۍ اسیا څخه جنوبي اسیا ته د بریښنا د لېږد پروژه یا کاسا زر:

a. د ډیزاین او پلان سره سم د سروې هر اړخیزې چارې دې بشپړې شي او همدا راز په افغانستان کې د HVDC لاین اړوند د سروې پاتې چارې دې هم بشپړې شي.
b. د پروژې د انجینرۍ کارونه دې ژر په قرار داد ورکړل شي، څو د HVDC لاین او په تاجکستان او پاکستان کې د سب سټیشنونو چارې هم ژر وروستۍ شي.

نوټ: کاسا زر پروژه یو اعشاریه اولس میلیارده ډالره لښګت لري او د منځنۍ آسیا ۱۳۰۰ میګا واټه بریښنا د افغانستان له لارې پاکستان ته لیږدوي. پدغه پروژه کې څلور هېوادونه قرغزستان، تاجکستان، افغانستان او پاکستان شامل دي. دغه پروژه د افغانستان په خاوره کې له ٦ مرکزي او ختیځو ولایتونو او ۲۳ ولسوالیو تیریږي چې په عملي کېدو سره به یې د یادو سیمو اوسیدونکي هم له

(c) ketabton.com: The Digital Library

برېښنا برخمن شي، د کاسا زر پروژې له لارې افغانستان ۴۵ میلیونه ډالر حق العبور ترلاسه کوي او ۳۰۰ میگا واټه برېښنا هم ور رسيږي.

III. د ترکمنستان، افغانستان او پاکستان د برېښنا 500kV مزی یا ټاپ 500kV:

a. د ټاپ 500kV پروژې تخنیکي ارزونه او د پلان ډیزاین چارې دې له مشورتي کمپنۍ سره په همغږۍ وروستۍ شي.

b. د پروژې د همغږۍ او څارنې میکانیزمونه دې روښانه او وروستۍ شي.

**ټرانسپورټ:**

I. د افغانستان د اورگاډي شبکه – هغه برخه چې افغانستان له گاونډیو هېوادونو سره نښلوي:

a. د اقینې – اندخوی – شبرغان (۱۰۸ کیلومتره) کرښې د ډیزاین چارې نهایي او ساختماني چارې دې ژر پیل شي.

b. د تورغونډۍ – هرات (۱۷۳ کیلومتره) ریل پټلۍ د ډیزاین چارې بشپړ او ساختماني چارې دې ژر پیل شي.

c. د چمن – سپین بولدک (۱۱٫۵ کیلومتره – لومړۍ برخه) او د سپین بولدک – کندهار (۹٦ کیلومتره – دویمې برخې) پټلیو ډیزاین چارې دې ژر بشپړ او ساختماني چارې دې ژر پیل شي.

d. د جلال آباد – تورخم (۷۵ کیلومتره) ریل پټلۍ لومړنۍ مطالعات دې بشپړې او ساختماني کارونه دې پیل شي.

e. د لښکرگاه – بهرام چه (۲۵۸ کیلومتره) پټلۍ لومړنۍ مطالعات دې ژر بشپړ او ساختماني چارې دې پیل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

f. د چابهار – زرنج – فراه د ریل پټلۍ لومړنی مطالعات او د ډیزاین چارې دې ژر بشپړ شي.

**د پنځو ملتونو د ریل پټلۍ دهلیز:**

II. د خاف – هرات (غوریان – پریان ۳٦ کیلومتره) د څلورمې برخې چارې دې بشپړ شي.

III. د کولخوزو – پنج پویان-شیرخان بندر چې افغانستان او تاجکستان د (٦۳ کیلو مترو په اوږدوالي) نښلوي، پاتې برخې دې ژر خلاص شي.

IV. د شیر خان بندر – کندز – مزار شریف (۱۸۷ کیلومتره) اورګاډي پټلۍ د ډیزاین چارې دې بشپړ او ساختماني چارې دې ژر پیل شي، همدا راز د مزار شریف – شبرغان (۱۷۰ کیلومتره) کرښې ساختماني چارې دې هم ژر پیل شي.

V. د شبرغان – میمنه – قلعه نو – کوشک (۴۷۲ کیلومتره) ریل پټلۍ د جوړولو لومړنی مطالعات دې بشپړ او د ډیزاین او ساختماني چارې دې ژر پیل شي.

**د سړکونو پروژې:**

VI. د بغلان – بامیان سړک د انجینرۍ او ساختمانۍ چارې دې ژر بشپړ شي.

VII. د سالنګ سړک او تونل د بیارغونې چارې دې بشپړ شي.

VIII. د افغانستان حلقوي سړک پاتې چارې دې بشپړ شي.

**ټرانسپورټي او ټرانزیټي دهلیزونه:**

I. د یو کمربند یوې لارې تر سیوري لاندې د MoU لاسلیک شوی تړون تطبیق او د چارو ارزونه دې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

II. د نړېوال ټرانسپورټي او ټرانزيټي دهليز يا چابهار ترون ښکېلو خواوو ترمنځ داخلي پروسيجر دې بشپړ شي، ضروري پروټوکولونه دې وروستی او همدا راز په معين وخت کې د ترون د مواردو پر اساس لازم فرصتونه دې ورته برابر شي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**